# په ۱۹۵۰ د ويښ زلميانو تاريخ جوړونکې مظاهره



لیکوال: سلیم پاینده

لومړي وزير محمدهاشم ميوندوال، گل پاچا الفت، قيام الدين خادم، محمدرسول پښتون او د ببرک کارمل پلار غُندمشر محمدحسېن د ويښ زلميانو په مظاهره کې (انځور يې ښيي) د شور بازار د حضرت مجددي او سخت دريځو ملايانو پر وړاندې د خپل نرمځواک تر څنگ، په ۱۹۵۰ کې د صدارت څلورلارې کې د خپل فزيکي موجوديت ننداره وړاندې کولې. عمدتاً دغه مظاهرې د ملايانو او مذهبي ډلو ځوابيه غبرگون وو.

هغه وخت چې د ويښو زلميانو مقاله "دعوت مردم به خرافات" تر لومړۍ هغې يوه اونۍ وروسته، د وري پر ۱۹مه په ندای خلق کې خپره شوه، د ملايانو پراخه غبرگون يې را وپارولای شو. د گوند يو مشر غلام حسن ساپي د مذهبي جوړښت او لوستې پوړۍ غړو تر منځ يو بشپړ جنجال رامنځته کړی وو، ځکه نوموړي په ښکاره ډول پر والي او ملايانو د پيغمبر د وېښته لپاره، د زيارت د جوړولو په خاطر نيوکه کړې وه:

د زيارت د ودانۍ جوړولو په خاطر د ښوونځي ودانېزې چارې ودرول شوې، آن د هغې ټول تخنيکي توکي او ساختماني مواد د زيارت لپاره وکارول شول. پوښتنه داده، چې د مذهب او مډرن ژوند د غوښتنو پر اساس چې نران او ښځې دواړه زده کړو ته اړ باسي، آيا موږ اړ يو چې ښوونځي جوړ کړو که زيارتونه؟ زموږ اوسنی حالت د شرم وړ دی. اړ يو چې د خلکو سترگې د هېواد په زړه-بوږنونکو واقعيتونو بينا کړو او د هغوی سره مرسته وکړای شو ترڅو هېواد د ناپوهی، شاتگپالنې او خرافاتو څخه وژغوري، افغانستان او په ځانگړې توگه ختيځ ولايتونه مډرنو ښوونځيو ته اړتيا لري. موږ هيله لرو چې زموږ لوی دينپوهان [علماء کرام] او روښاندي ځوانان به د دا ډول خرافاتي او شاتگپالو کړنو پر وړاندې مبارزه وکړي.

مقاله په کابل کې د خلکو د لاريون لامل شوه، چې مشري يې د هيواد د ترټولو مشهور مذهبي مشر، د شور بازار صوفي حضرت فاضل عمر مجددي پر غاړه وه. حضرت مقاله استثناء کړله او په دې هڅه کې شو چې په غلام حسن خان ساپي باندې د (تکفير او رجم) تور ولگوي او غوښتنه يې وکړه چې د شريعت له مخې بايد سنگسار شي. يو لوی شور او پراخه غوغا راپورته شوه، مجددي ډېر ملايان راټول او يو ځای کړل. هغه حتی کوښښ وکړ چې خپل پلويان د سوبلي پکتيا ولايت څخه کابل ته راولي. د ساپي

په دفاع کې، د ډیموکراتیکو گوندونو په مشرۍ، د لوستو ټولگیو غړو هم پراخ او عام لاریون وکړل. د مجددي کورنۍ د تاریخ په اوږدو کې له سمون غوښتونکو او روښاندو سره په مستقیمه شخړه کې واقع وه. ساپي ونیول شو، محاکمه شو او تر هغه بندي شو چې "د توبې او اصلاح نښه د هغه پر تندي څرگندیدله". خو لاریونونو دوام وکړ. مذهبي مشران د هغه څه څخه چې "سپک مجازات" یې بلل خوښ نه ول. له همدې امله یې د نورو لارو څخه هڅې پیل کړې. د ۱۹۵۱ د جولای پر اوله په کابل کې د پاکستان د سفارت په خپرې شوې اعلامیې کې راغلی وو چې، د افغانستان د ټولو سیمو علماء او ملایان پاچا ته لاندې غوښتنې وړاندې کوي:

لومړی: ساپي او د هغه اصلي پلویان باید د اسلامي هېوادونو لکه؛ مصر، عراق او حجاز د یوه بورډ له خوا محاکمه شي.

دوهم: د ندای خلق خپلواکه رسنی چې د پاچا او خلکو په وړاندې ناراضایتي رامنځته کوي، وتړل شي.

دریم: هغه لیکوالان چې د خپلو لیکنو له لارې په سیمه ییزو رسنیو کې کمونیستي تفکر خپروي، مجازات شي.

د دیني عالمانو غوښتنه، له لویه سره دا وه چې له هغوی پرته نورو خلکو یا سازمانونو ته اجازه ورنه ورکړل شي چې له اسلامي موضوعاتو سره نیږدې پاته شي، یا نوی تفسیر وړاندې کړای شي، دوی دا یوازې خپل ځانته ځانگړې کړې وه. د دوی غوښتنه په روښانه ډول د غلام حسن ساپي د مجازاتو لپاره لوی چوکاټ غوښت چې د ورته نورو پېښو لپاره لارښود پاته سي، په همدې دلیل دوی هڅه کوله چې د نورو اسلامي هېوادونو څخه دیني عالمان داخل کړي. د دوی په نظر د ساپي مقاله د یو سیاسي گوند نظر څرگند کړی دی، نو مسئالې ته باید په پراخه کچه پاملرنه وشي، نه یوازې لیکوال ته مجازات ورکړل شي، بلکې گوند یې هم وتړل شي. ددې سربېره چې د ساپي په ملاتړ په کابل کې لوی لاریون ترسره شو، د دیني عالمانو نظر دا وو چې ټول هغه څوک یا څه چې د دوی واک ننگوي باید کمونست وگڼل شي، او کمونستي گوند به نه یوازې چې د افغانانو غوسه راپاروي بلکې د نړۍ له گوټ گوټ څخه به د مسلمانانو پام ځانته را واړوي، چې په دې توگه قضیه یوه نړیواله مسأله گرځي. د "کمونېزم" کلمې په یادولو، دیني عالمانو ټینگار کاوه چې د ساپي د مقالې تر شا اسلام ضد اوږدې ریښې پرتې دي.

د ملایانو او ملتپالانو ترمنځ شخړه او د اهدافو په ترلاسه کولو کې د روحانیونو ناکامي، ځینې ځوانو ملایانو ته د خپل سیاسي گوند د رامنځته کولو په اړه فکر ورکړ. هغوی نه یوازې د خپلو نظرونو د خپرولو لپاره، بلکې د ملتپالو ډموکراتیکو سیاسي گوندونو سره د سیالۍ لپاره لېوالتیا لرله. دوی د ویښ زلمیانو څخه زده کړل، ددې لپاره چې خپلې موخې ترلاسه کړای شي او سیاسي دریځ یې پیاوړی واوسي؛ اړ دي ځانونه په سیاسي چوکاټ کې تنظیم کړي. فضل رحیم مروت څرگنده کړې ده چې د مجددي د کورنۍ ځوانو غړو پریکړه کړې وه، چې یو داسې سیاسي گوند رامنځته کړي چې د کمونیستي پلوه ښکیلو لوریو پر خلاف کار وکړي. ځینو مؤرخینو او د افغان سیاسي تاریخ څیړونکو ادعا کړې ده چې نوموړی گوند د ۱۹۵۲ په لومړیو کې رامنځته شو، مگر لا هم دقیق مالومات د هغوی په اړه نشته. په حقیقت کې روحانیون په هغه وخت کې د اسلامي گوند په جوړولو کې پاته راغلل. مگر د اړیکو په رامنځته کولو او منظمو غونډو په جوړولو سره دوی د یوه مذهبي اسلامي جریان پروسه پیل کړای شوه.

دا د مذهبي بنسټونو او روښاندو ترمنځ په افغانستان کې لومړۍ ښکاره مخامخ کېدنه او شخړه نه وه. د ۱۹۲۰مو کلونو په جریان کې روحانیونو خلک راټول کړي وو او د افغانستان د سویل او ختیځ په لیرې پرتو سیمو کې یې د حکومت په وړاندې بغاوت رهبري کړی وو. په هرصورت، دا ځل په کابل کې جگړه او تقابل د عامه لاریونونو له لارې وشو. دا د یو ډیموکراټیک ملتپال گوند پروړاندې لاریون وو چې د مذهبي ایډیالوژۍ پرځای یې د قانون د واکمنۍ او ملتپالنې پلوي کوله.

# په ۱۹۵۰ د ویښ زلمیانو تاریخ جوړونکې مظاهره

دواړو لوریو خپل نظریات د وسلوالو پاڅونونو پر ځای د عامه لاریونونو له لارې څرګند کړل. په حقیقت کې دغو لاریونونو په هېواد کې د نوي ځواک په توګه د روښاندو د مطرح کولو سره مرسته وکړله او په نهایي غایه کې د ویښ زلمیانو په ګټه پای ته ورسیدل. که څه هم حکومت غلام حسن ساپی بندي کړی وو، خو په لویه کې یې ځان د روښاندو سره په تقابل کې نه راویستی، پدې توګه یې د ملایانو غوښتنو ته ځواب ونه وایه او په ښکاره ډول یې د ساپي مقاله د کمونستي دوکتورینو د خپراوي په توګه جدي ونه ګڼله. د ساپي سزا یې را ټیټه کړله، د هغه اعدام ملغا یې کړ او حتی د عمر قید جزا یې پلي نه کړله. دا چې د هغه د مجازاتو موده د دولت په لاس کې وه، له دوه کلن بند وروسته یې هغه خوشې او په پېښور کې د افغانستان جنرال کونسل وټاکل سو. دا کار د "ملایانو" په وړاندې د حکومتي پالیسی ژور بدلون څرګندوي. د مذهبي جوړښتونو څخه د رضایت او له هغوی سره د یوځای کار کولو څخه حکومت خپل کار پای ته رسول غوښت، حکومت نور د قدرت ساتلو لپاره د روحانیونو په ملاتړ تکیه نه کوله.

له دې هاخوا، د مذهبي روحانیونو او ویښ زلمیانو تر منځ تقابل او شخړه تر ورځپاڼو او عامه مظاهرو پورې محدود پاته نه شوه. ګوند نورې لارې هم کارولې، لکه د کتابونو خپرول، تر څو د مخالفو غبرګوني ځواکونو سره مبارزه وکړای شي. د بېلګې په توګه، په ۱۹۴۸ کې، ویښ زلمیانو «د شوربازار حضرت څوک دی؟» په نوم یو کتاب خپور کړ، په دې کتاب کې د نقشبندي صوفي مجددي کورنی د مشر او په هیواد کې ترټولو نفوذ لرونکي روحاني په اړه ناویل شوي خبرې راغلې وې . کتاب کې، نه یوازې د افغانستان په سیاسي ناکراری کې د حضرت منفي رول بیان شوی وو، بلکې د شاتګپالو مذهبپالو لخوا د هېواد پرمختګ ته متوجه زیانونه هم تشریح شوي وو، ددې تر څنګ په شلمه پېړی کې د افغانستان پر کورنی سیاست هم منظم بحث شوی وو. کتاب په پټه ویشل کېدی.

که څه هم، ویښ زلمیان او د ۱۹۴۷ او ۱۹۵۲ ترمنځ نور سیاسي ګوندونه د مذهبي جوړښت پروړاندې غالب ول، مګر د حکومت پر وړاندې یې د میدان توپ له لاسه ورکړ. د دوی خپرونو، لاریونونو او په ځانګړې توګه ملي شورا کې پر حکومت انتقاد ددې لامل شوی وو چې حکومت دوی د ۱۹۵۲ په اپریل کې سرکوب کړي، دا د سیاسي مبارزې د یوې دورې د پای په مانا ګڼلای شو.

که څه هم حکومت د ویښ زلمیانو د ملت پالنې ځینې غوښتنې عملي کړې، لکه د پښتونستان مساله، د پښتو ژبې وده او د عصري زده کړو خپرول، اما د مشروطه دولتجوړنې سره یې علاقه ونښودله. د ویښ زلمیانو ګوند له منځه وړل د افغان سیاسي تفکر لپاره نه ملهم کېدونکی او ژور زخم رامنځته کړ. تر ویښ زلمیانو وروسته هېڅکله هم بیا ملتپالنه، مشروطه غوښته او د قانون واکمني د سیاسي تنظیم او تحرک لپاره محور ونه ګرځېد. پرځای یې، د اساسي قانون لسیزې په جریان کې، د ۱۹۶۴ او ۱۹۷۳ کلونو ترمنځ یو شمیر سیاسي ګوندونه راڅرګند شول، مګر هغوی په پراخه توګه د سخت دریځو ایډیالوژیو لکه مارکسیزم او اخواني اسلامیزم څخه ملاتړ وکړ.

د ملتجوړونې هغه موډل، چې د ویښ زلمیانو ګوند تشهیر کاوه د ګڼ توکمیزو ګټو پر استازولی ولاړ وو او پښتنانه یکې د ملت زړه ګڼل کیدل. د پښتنو اخلاقي ارزښتونه او کړنې پکې څرګندې شوې وې، او په ژوره توګه پښتون-محوره احساس پکې نغښتی وو. توکمېز پیوستون د ټولنیز-سیاسي او اقتصادي تړاو پر بنسټ وو. د ویښ زلمیانو کړنلاره د پښتو ژبې پر ودې او پراختیا ټینګار کوي، د هېواد د خپلواکۍ او ملي حاکمیت څخه ننګه کوي، لرغونو تاریخي او ملي میراثونو ته درناوی لري، سائنس او مډرن انساني فرهنګ خپروي او د ملت او دولت ترمنځ ښې اړیکې رامنځته کوي.

# په ۱۹۵۰ د ویښ زلمیانو تاریخ جوړونکې مظاهره

د ویښ زلمیانو پلټفورم دا هم څرګندوي چې څرنګه د شلمې پیړۍ په منځ کې د لوستې طبقې، د حاکمو نخبګانو یوې برخې او نشنلستې افکارو په ګډه د حکومتونو پر تختونو ویده حکمفرمایان راویښ کړای شول. مګر ډېر ژر دوی وموندله چې په سیاسي پروسه کې خپله ایډیالوژیکه اتوریټه له لاسه ورکوي. دې چارې له دوی څخه ځیني د دې په اړه فکر کولو ته اړ کړل چې څرنګه خپل ځان په بدلیدونکې نړۍ کې تنظیم کړي ترڅو د دوی د نظریاتو لپاره په ټول هېواد کې د حکومتي حاکمې طبقې او نورو په هڅولو سره د خپل ایډیالوژیک تسلط مراندې پیاوړې کړي. هغه برخه چې ددې نظریې سره په مخالفت کې واقع شوه د اسلامي ګوند جوړولو ته وهڅول شوه او په دې توګه په افغانستان کې د سیاسي اسلام د رامنځته کیدلو لومړی پړاو هم پیل شو.

دغه سیاسي-ایډیالوژیک توپیر او بدلون د یوې اوږدې لانجې پیل وکړ چې تر نن ورځې پورې دوام لري او دا یې په ډاګه کړه چې د شلمې پیړۍ په منځ کې ترټولو فعال او متحرک سیاسي ګوند، ددې پر ځای چې اسلامپال واوسي، ملتپال وو.

محمد معصوم هوتک مې 3, At 6:00 am2021

د لوستونکو د زیات معلومات له پاره:

په تصویر کي د میوندوال کیڼ لاس ته ( چي موږ ته ښی لاس دئ) د ویښ زلمیانو مشر محمد رسول خان پښتون او د هغه څنګ ته په اوږده چوخه کي مولوي عبدالخالق واسعي دئ (د شهید عبدالواسع اخندزاده زوی).

https://taand.com/main/?p=183288